د هالنډ مهاجرینو د مرستو اداره

دوهم اجازه لیک
-تولنیزی لاربنوونی-

په دی وسیلی سره زه:
پوره نوم:
د زیږیدو نیټه:
د خارجی وګړو ځانګړی V شمیره :
او / یا د IND شمیره:

د مهاجرینو د مرستو د اداری کارکونکو ته اجازه ورکوم چه :
- هغه عمومی او خاص شهرت چه د لاندنی اهدافو لپاره ضروری دی د ټول هیواد دالکترونیکی دوسیی په سیسټم کی خپل په واک کی ولری.
- زما د پیژندنی قانونی شمیره لکله د اطباعو ځانګړی قانونی شمیره BSN او د خارجی اطباعو شمیره V-Nummer یوازی زما له خوا او زما په هدایت سره په هغه صورت کی چه زه قانونی مکلفیت ولرم د نورو ادارو سره د قانون پر بنسټ .

زما د پیژندنی د ځانګړی شمیری نه کار واخلی. دمهاجرینو د مرستو اداره زما د پیژندنی ځانګړی شمیره په څرګنده توګه سره د پروسی د پرمختګ د کار اخیستونکی ، نه د محرمیت د قانون د ساتونکی په حیث کار وی .

زما د ټولو مشخصاتو سره په محرمانه توګه چلند کیږی او یوازی د هغو اهدافو لپاره چه ما ته معلومات راکړه شوی دی کارول کیږی .
دغه اهداف لاندنی لاربنوونی دی:
- په کډی کولو کی لاربنوونی
- په ټولنیزو چاروکی لاربنوونی
- د زده کړی او کار په لوری لاربنوونی
- د کمپ نه دباندی.حقوقی لار ښوونی ( د بیلګی په توګه؛ که ستاسی د اقامی د اجازی وخت تیر شوی وی)

همدارنګه زما مشخصات د مهاجرینو د مرستو د اداره د داخلی پالیسی په پرمختګ کی کارولی شی.
د مهاجرینو د مرستی اداره به ماته د نوی اهدافو په هکله اضافی معلومات راکړی.

دا اجازه په ټول هیواد کی د مهاجرینو د مرستو په اداروکی د اعتبار وړ ده. ( هغه شیان چه د تطبیق دی نښانی یی کړی):[1]
-د شمالی هالنډ د مهاجرینو د مرستو د اداره
- د ختیځ هالنډ د مهاجرینو مرستو اداره
- د شمال ختیځ هالنډ د مهاجرینو د مرستو اداره
- د جنوب لویدیځ هالنډ د مهاجرینو د مرستو اداره
- د جنوبی هالنډ د مهاجرینو د مر ستو اداره
- د مرکزی هالنډ د مهاجرینو د مرستو اداره
- د نوی راغلو کسانو او مرکزی برابانت د مهاجرینو د مرستو اداره

ځای:
نیټه:
نوم:[2]
لاسلیک :

[1] دلته صرف د یوی اداری نوم نښانی کړی .
که چیری تاسی کوم بلی کاری منطقی ته کډه کوی، دوهم لاسلیک د نوی نیټی سره ولیکی. دوی میاشتی تر لاسلیک کولو وروسته دغه اجازه لیک چه د مشخصاتو د کارولو په موخه مخکنی اداری ته ورکړه شوی دی ړنګیږی، اما که تاسی ووایاست چه ستاسو اجازه په روانه توګه د اعتبار وړ ده .
مګر داسی هم کیدای شی چه مخکنی اداره ستاسی مشخصات د قانون د مقرراتو د مراعات کولو پر بنسټ ، د یوه قرارداد په عملی کولو کی چه هلته ستاسی په وړاندی حقوقی دعوای روانه وی او یا ستاسی حقوقی ګټه پکښی وی، وکاروی.
[2] هغه کسان چه سن یی تر ۱۶ کلنی ټیټ وی باید چه قانونی سر پرست خپل نوم ذکر کړی او لاسلیک وکړی .

**ستاسو د مشخصاتو د کارولو په هکله معلومات:**

**د مهاجرینو د مرستو اداره څه شی ده؟**
د مهاجرینو د مرستو اداره یوه خپلواکه اداره ده چه د مهاجرینو د حقوقو څخه دفاع کوی او د هغوی سره د په هالنډ کی د نوی ژوند په جوړولو کی مرسته کوی.
د مهاجرینو د مرستی اداره د مهاجرینو سره د پناه غوښتنی په پروسی کی ، په ټولنی کی د ګډون او نورو پوښتنو کی چه مهاجرین یی کوی لارښوونی کوی. د مهاجرینو د مرستو اداره د یوی عمومی اداري، منطقوی اداري او د هیواد په هر ګوټ کی د منطقوی ادارو نه لکه شمالی هالنډ، ختیځ هالنډ، شمال لویدیځ هالنډ، جنوب ختیځ هالنډ، جنوبی هالنډ، مرکزی هالنډ او په هالنډ کی د نوی راغلو کسانو او د مرکزی برابانت د اداری څخه جوړه شوی ده.

**د اشخاصو د شهرت د محرمیت قانون**
هالنډ داسی قانون لری چه ستاسی د شخصی ژوند محافظت کوی. د اطباعو د مشخصاتو د ساتنی قانون (Wbp) دا ټاکی چه د مهاجرینو د مرستی اداره ستاسو د مشخصاتو نه څرنګه کار واخلی.
په دغه قانون کی لیکل شوی چه د مشخاتو نه کار اخیستل باید په غور سره سرته ورسیږی. د هر چا شهرت چه ټاکل کیږی حق لری وګوری چه مشخصات یی په سمه توګه کار اخیستل کیږی. د بیلګی په توګه؛ تاسی دا حق لری چه خپل مشخصات وګوری ، اصلاح یی کړی او شیان پکښی زیات کړی، له منځه یی ویسی، پټ یی کړی او یا انتقال ورکړی.

**ستاسی شهرت**
د دی لپاره چه د مهاجرینو د مرستی اداره ستاسو سره ښه مرسته وکولای شی ستاسی شهرت یی په کار دی. دا کیدای شی چه عمومی مشخصات لکه ستاسی نوم، پته، ملیت، د زیږیدو نیټه او ستاسو د پناه غوښتنی د پروسی او یا ستاسو د شخصی حالاتو په هکله معلوماتونه وی. ستاسو په شخصی حالاتو کی کیدای شی خاص مشخصات شتون ولری.
دا هغه مشخصات دی چه په هالنډ کی د ډیرو حساسو مشخصاتو په توګه شمیرل کیږی او د هغو سره باید نور هم په غور سره کار واخیستل شی.
دبیلګی په توګه دا مشخصات کیدای شی چه ستاسی د نژاد، روغتیا، دین یا ستاسی د ژوند کولوطریقه او یا ستاسی سیاسی مفکوره وی . د Wbp قانون د خاصو مشخصاتو کارول منع کوی، په غیر له دی چه قانون له مخی وی او که تاسی مونږ ته په څرګنده توګه سره اجازه راکړی وی.
**ستاسس خاص شهرت یوازی هغه وخت څرګند کیدای شی چه ستاسو د پناه غوښتنی د پراو لپاره مهم وی.**

**اجازه**
د دی لپاره چه مونږ وکولای شو تاسی ته لارښوونی وکړو ستاسو څخه کتبی اجازه غواړو د دی لپاره چه ستاسی د مشخصاتو څخه کار واخلو او هغه خپل د دوسیو په اتوماتیک سیستم کی ثبت کړو. که چیری تاسی بل کمپ ته تبدیل کیږی د مهاجرینو د مرستو اداره ستاسی دوسیه ستاسو راتلونکی کمپ ته لیږی تر څو چه د ( پناه غوښتنی په پروسی او په ټولنی کی د ګډون کولو ) کی لارښوونی مخ ته ولاړی شی.**د مهاجرینو د مرستو اداره خپل ټوله کارکونکی د محرمیت په ساتلو او ستاسو د مشخصاتوسره په محرمانه چلند باندی مکلف کړی دی.**
که تاسی بیا هم د مهاجرینو د مرستو د اداری د مشخصاتو د کارولو د طریقی څخه راضی نه یاست کولای شی چه په دی هکله شکایت وکړی.
هغه مقرره کومه چه پکښی لیکل شوی چه تاسی څرنګه شکایت کولای شی د مهاجرینودمرستو د اداری په دفتر کی د کتلو لپاره پرته ده. تاسی هر وخت کولای شی چه ویی غواړی.

**آیا تاسی نور معلومات غواړی؟**
دا چه د مهاجرینو د مرستو اداره ستاسی د مشخصاتو سره څه ډول چلند باید وکړی په یوی مقرری کی لیکل شوی دی.
آیا دا تاسی ته پیچلی څرګندیږی او یا د دغه معلومات په هکله پوښتنی لری، تاسی کولای شی چه زمونږ سره اړیکی ونیسی. مونږ د دی لپاره یو چه ستاسی سره په ښه توګه مرستی وکړو او په سمه توګه معلومات درته کړو.

په درناوی،

د مهاجرینو د مرستو اداره